مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۳/۰۲/۱۱

# هغه بلا، چې راروانه ده او زه يې وينم

هغه بلا،
چې راروانه ده
او
زه يې وينم
توره ده
سپينه ده،
د ژوند له رنګارنګي ښکلا کرکه لري
د ماشومانو له خندا څخه يې زړه ترک چوي
او د شيشکو پرتوګاښ يې دی له سر تاو کړی
هغه بلا،
چې راروانه ده
او
زه يې وينم
يو وروست کتاب يې دی تر څنګ نيولی
له هرې کرښې يې د ښځو ويني داري وهي
غبرګو لاسو کې يې دوه تورې دي او ژبې ريبي
هغه بلا،
چې راروانه ده
او
زه يې وينم
د اوښبنو د کوډو تور منقل يې غاړه کې پروت
په کې افيون دي د زړو اسطورو
لوګي يې خيژي او عقلونه لوټي
چېرته چې دود د دې افيونو تللی
د پوهې زړی بيا شين شوی نه دی
چېرته چې دود د دې افيونو تللی
هلته ټول خلک لاس کې تورې او چړې ګرځوي
که بل څوک نه وي،
له بربنډو ماشومانو نه مرۍ پرې کوي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

چېرته چي دود د دې افيونو تللی
هلته د غرو لمنې تشې دي له کاڼو ډکې
سنګسار
سنګسار
سنګسار.
هغه بلا،
چې راروانه ده
او
زه يې وينم
نه مردزمای دی، نه شيشکه، نه کوډګره بوډۍ
يوه يې سترګه ده ، خو نه دی د زړو کيسو يو سترګی د ديوانو پاچا
چېرته د غيبو خزانې دي او کيلی يې رالويدلي د شيطان لمن کي
دغه بلا ده د شيطان له چپ تخرګ نه پيدا
هاغه ده وينم يې راځي او له منقل نه يې دودونه د افيونو خيژي
پر لار يې ټولو نه عقلونه وړي
توري و چړې يې په لاسو ورکړي
او د شيطان له خزانو ډکه هرچا ته لپه، لپه سرې سکروټې ويشي
خلک افيونو باندې مست دي ژر ـ ژر خولو ته ننباسي د شيطان سکروټې
هغه بلا،
چې راروانه ده
او
زه يې وينم
د ازادۍ له نامه کرکه لري
او د افيونو بوی وهلي جام کي وينې د ښکلا غواړي
هغه بلا،
چې راروانه ده
او
زه يې وينم
های! های!
لوګي وهلي ولې زما په ژبه نه پوهيږي؟
زه بلا وينم
زه په چيغو او نارو ستړی يم
زه د بلا راتلو ته نه ژاړمه
زه د افيونو دودوهليو ته
د غم پر زنګون خوب وړی يم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ